# د ملاکي نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

ملاکي نبي د حجای نبي او زکریا نبي څخه شاوخوا سل کاله وروسته ژوند کاوه. د ملاکي نبي کتاب د میلاد نه مخکې په پنځمه پېړۍ کې په اورشلیم کې د عبادتځای د بیا رغونې له بشپړېدلو وروسته لیکل شوی دی. سره له دې چې د عبادتځای کار سرته رسېدلی ؤ، خو خلک او حتی کاهنان د خدای په عبادت کې لټان شوي وو او د خدای د تعلیم سره یې سم ژوند نه کاوه.

د ملاکي نبي کتاب د خدای او د هغه د خلکو ترمنځ د شخړو یوه لړۍ ده. خدای د هغوی سره مینه کوي، خو هغوی پوښتنه کوي چې څنګه؟ خدای وایي چې د هغه خلک د خپلو ناپاکو قربانیو په وړاندې کولو سره هغه ته سپکاوی کوي او کله چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو ښځو ته طلاق ورکوي، نو د څښتن سره خپل لوظ ماتوي. کله چې اسراييل پوښتنه کوي: «د عدالت خدای چېرته دی؟» او «کله چې بدکاره خلک په نړۍ کې بريالي شي، نو خدای ته خدمت کول څه ګټه لري؟» نو بيا خدای دوی ته خبرداری ورکوي چې هغه د څښتن په ورځ خپل استازی لېږي او هغه وعده شوی مسيح به راشي. په اسراييلو کې به د وفادارانو په هکله د «خاطراتو په کتاب» کې وليکل شي او وفادار خلک به د خدای رحمت ووينې.

د ملاکي نبي د کتاب په پای ته رسېدلو سره د سپېڅلي کتاب زړه لوظنامه هم پای ته رسېږي. د ملاکي نبي څخه وروسته نړۍ د څلور سوه کلونو دپاره په خاموشۍ سره يعنې د پيغمبرانو د کوم پيغام پرته د وعده شوي مسيح د راتلو په انتظار کې پاتې کېږي.

# د موضوعګانو لست

د اسراييلو ګناهونه: ۱: ۱– ۲: ۱۶


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای قضاوت او د رحمت وعده: ۲: ۱۷– ۴: ۶

۱ دا هغه پیغام دی چې ښبنتن ملاکي ته ورکړ چې د
اسراییلو خلکو ته یې ورسوي.

## د یعقوب سره مینه او د عیسو نه کرکه

۲ ښبنتن وایي: «ما تل ستاسو سره مینه کړې ده.» خو تاسو
پوښتنه کوئ: «تا زمونږ سره څنګه مینه کړې ده؟» ښبنتن په
ځواب کې وایي: «عیسو او یعقوب سره ورونه وو. په ما باندې
یعقوب او د هغه اولاده ګرانه وه، ۳ خو د عیسو او د هغه د
اولادې نه مې کرکه کوله. ما د عیسو غرنی وطن وران او ویجاړ
کړی دی او هغه وطن مې سورلنډیانو ته پریښی دی.»

۴ که د عیسو اولاده ادومیان وایي: «زمونږ ښارګوټي وران
شوي دي، خو مونږ به هغه بېرته ودان کړو.» نو ښبنتن به ورته په
ځواب کې داسې ووایي: «پرېږده چې هغوی یې بیا جوړ کړي، زه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

به هغه بیا وران کړم. د هغوی وطن به د ‹بدکارۍ وطن› او خلک به يې د ‹هغه خلک چې څښتن تل وربانديې په قهر وي› په نوم يادېږي.»

۵ ای د اسراییلو خلکو، کله چې تاسو دا هر څه په خپلو سترګو ووینئ، نو وايئ به: «د څښتن لويي د اسراییلو د سرحدونو نه بلې خواته هم ليدل کيږي.»

## د ناپاکه قربانيو وړاندې کول

۶ مطلق قادر څښتن کاهنانو ته وايي: «یو زوی د خپل پلار عزت کوي او یو نوکر د خپل بادار عزت کوي. زه ستاسو پلار یم، تاسو ولې زما عزت نه کوئ؟ زه ستاسو بادار یم، تاسو ولې زما درناوی نه کوئ؟ تاسو زما سپکاوی کوئ، خو بیاهم وايئ : ‹مونږ ستا سپکاوی څنګه کړی دی؟› ۷ تاسو زما د قربانۍ په ځای باندې ناپاکه قربانۍ وړاندې کړې دي. خو تاسو پوښتنه کوئ: ‹مونږ څنګه ستا درناوی نه دی کړی؟› تاسو په دې خبره زما د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرباني د ځای بې‌عزتي کړې ده. ۸ کله چې تاسو ړانده، ناروغ یا
کوم ګوډان حیوانات ما ته د قرباني دپاره راولئ، نو ایا دا غلط کار
نه دی؟ که چېرې داسې حیوانات خپل حاکم ته ورولئ، ایا هغه به
ستاسو نه خوشحاله شي او یا به کومه ښېګڼه درسره وکړي؟»
مطلق قادر څښتن داسې وايي.

۹ اوس ای کاهنانو، لاړ شئ، خدای ته سوال وکړئ چې په
تاسو باندې رحم وکړي. خو کله چې تاسو داسې نذرانې راوړئ،
نو هغه ولې په تاسو باندې مهرباني وکړي؟ ۱۰ مطلق قادر څښتن
وايي: «کاشکې ستاسو نه کوم څوک زما د عبادتځای دروازې
بندې کړي، ترڅو تاسو زما د قرباني په ځای باندې خوشې
اورونه بل نه کړئ! زه ستاسو نه راضي نه یم. تاسو چې کومې
نذرانې ما ته راوړئ، نو زه به هغه قبولې نه کړم. ۱۱ د لمر خاته نه
تر لمر پرېوتلو زما نوم په ټولو قومونو کې په درناوي او عزت
سره یادېږي. هغوی هرچېرته ما ته خوشبویئ سوځوي او د منلو
وړ قرباني راته وړاندې کوي، ځکه چې هغوی ټول زما د نوم
عزت کوي! ۱۲ خو تاسو زما د نوم بې‌عزتي کوئ او وایئ چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زما د قربانۍ ځای يو عادي ځای دی او دا قربانۍ چې خدای ته
يې وړاندې کوې، د منلو وړ نه دي. ۱۳ تاسو وايئ چې مونږ د
دې هر څه نه تنګ شوي يو! او ما ته په پوزه کې سونېږئ. تاسو
ما ته د غلا يا داسې حيوان چې ګوډ يا ناروغه وي، د نذرانې په
توګه راولئ. ايا تاسو فکر کوئ چې زه به هغه قبول کړم؟ ۱۴
لعنت دې وي په هغه ټګ سړي باندې چې په رمه کې يې يو نر
حيوان وي او نذرونه يې منلي وي، خو څښتن ته ګوډ او معيوب
حيوان قرباني کړي. نو مطلق قادر څښتن وايي زه لوی پاچا يم او
د ټولو قومونو خلک به زما نه ويرېږي.»

## کاهنانو ته خبرداری

۱ مطلق قادر څښتن وايي: «ای کاهنانو، ستاسو دپاره دا
خبرداری دی! ۲ که چېرې تاسو زما خبرو ته غوږ ونه نيسئ او
د زړه نه زما د نوم درناوی ونه کړئ، نو زه به په تاسو باندې خپل
لعنت نازل کړم او په هغو شيانو باندې به لعنت ووايم چې تاسو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې ترلاسه کوئ. په حقيقت کې ما له مخکې نه په تاسو باندې
لعنت ويلی دی، ځکه چې تاسو زما کلام ته په خپلو زړونو کې
ځای ورنه کړ. ۳ زه به ستاسو اولادونو ته سزا ورکړم او د هغو
حيواناتو خوشايي به ستاسو په مخونو باندې وموښم چې تاسو
يې قرباني کوئ او په دې سره به تاسو لېرې وغورځول شئ. ۴
نو بيا به تاسو پوه شئ چې ما تاسو ته دا خبرداری درکړی ؤ
چې کوم لوظ چې ما د کاهنانو يعنې د لاوي د اولادې سره کړی
ؤ، هغه دې ټينګ وساتل شي. مطلق قادر ښښتن داسې وايي.

۵ په هغه لوظ کې چې د لاويانو سره مې کړی ؤ، په هغه کې
مې د هغوی سره وعده کړې وه چې هغوی ته به ژوند او ارامي
ورکوم او هغه مې ورکړل چې هغوی زما درناوی وکړي. په هغو
ورځو کې هغوی زما درناوی کاوه او زما نه وېرېدل. ۶ هغوی
سم تعليم ورکاوه او غلط تعليم يې نه ورکاوه. هغوی په ارامۍ او
صداقت سره زما پيروي کوله او ډېر خلک يې د ګناه څخه
راګرځول. ۷ دا د کاهنانو مسووليت دی چې خلکو ته د خدای
ربښتينی تعليم ورکړي. خلک به کاهنانو ته ورځي چې د هغوی په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسیله یوه شي چې زما رضا څه ده، ځکه چې هغوی د مطلق قادر څښتن استازي دي.

٨ خو اوس تاسو کاهنان د سمې لارې نه ګرځېدلي یئ. ستاسو تعلیم ډېر خلک په غلطه لاره روان کړي دي. ما چې کوم لوظ د لاویانو سره کړی ؤ، هغه مو مات کړی دی. مطلق قادر څښتن داسې وايي. ٩ نو د هغې په بدل کې به زه تاسې د اسراییلو د خلکو په نظر کې خوار او سپک کړم، ځکه چې تاسو زما د قوانینو څخه پیروي نه کوئ او کله چې زما قوم ته تعلیم ورکوئ، نو د هغوی سره یوشان چلند نه کوئ.»

## د خدای سره د خلکو بې‌وفايي

١٠ ایا زمونږ د ټولو پلار یو نه دی؟ ایا مونږ ټول یو خدای نه یو پیدا کړي؟ نو بیا مونږ ولې یو د بل سره بې‌وفايي کوو او د هغه لوظ نه سرغړونه کوو چې خدای زمونږ د نیکونو سره کړی ؤ؟ ١١ د یهودا خلکو د خدای سره بې‌وفايي کړې ده او په اسراییلو او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورشليم کې يې د کرکې وړ کار کړی دی. هغوی د هغه عبادتځای
بې‌حرمتي کړې ده چې په څښتن باندې ګران دی او د هغو ښځو
سره يې ودونه کړي دي چې د نورو خدايانو عبادت کوي. ١٢
هغه چا چې دا کارونه کړي دي، نو څښتن دې هغه د اسراييلو د
قوم نه ورک کړي، حتی که هغوی مطلق قادر څښتن ته نذرانې
هم راوړي.

١٣ بل کار چې تاسو يې کوئ هغه دا دی چې تاسو د څښتن
د قربانۍ ځای په خپلو اوښکو باندې ډکوئ. ژړا او زګېروي کوئ،
ځکه چې تاسو چې کومې نذرانې هغه ته راوړئ، هغه يې نور نه
قبلوي. ١۴ تاسو پوښتنه کوئ: ‹هغه يې ولې نور نه قبلوي؟› دا
ځکه چې هغه پوهېږي چې د خپلې ځوانۍ په وخت کې چې
تاسو هر يو د کومې ښځې سره واده کړی ؤ، د هغې سره مو
بې‌وفايي کړې ده، که څه هم هغه ستاسو ملګرې او ستاسو نکاح
شوې ښځه وه. ١۵ ايا خدای ته د هغې سره يو تن او يو روح
کړی نه وې؟ په دې کې د هغه څه مقصد ؤ؟ د هغه مقصد دا ؤ
چې تاسو به اولادونه ولرئ چې د خدای قوم به وي، نو هر يو په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان باندې پام کوئ او د خپلې ښځې سره کړې وعده مه ماتوئ. ۱۶ د اسراییلو څښتن خدای وایي: «زه د طلاق نه کرکه لرم. ځکه څوک چې د خپلې ښځې سره داسې وکړي، نو دا یو ظالمانه کار دی. پام کوئ تاسو چې د خپلې ښځې سره کومه وعده کړې وه چې د هغې سره به وفا کوئ، هغه ما ته نه کړئ.»

## د قضاوت کولو ورځ رانږدې ده

۱۷ تاسو په خپلو خبرو باندې څښتن ستړی کړی دی. خو تاسو پوښتنه کوئ: «هغه مو څنګه ستړی کړی دی؟» په دې خبرو باندې چې وایئ: «ټول بدکاره خلک د څښتن په نظر کې ښه دي او په حقیقت کې هغوی خوښوي.» یا پوښتنه کوئ: «هغه عادل خدای چېرته دی؟»

۱ مطلق قادر څښتن په ځواب کې وایي: «ګوره، زه به خپل استازی ولېږم چې زما دپاره لاره تیاره کړي. نو بیا چې تاسو د کوم څښتن په لټه کې یئ هغه به ناڅاپه خپل عبادتځای ته راشي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو چې د کوم استازي لیدل غواړئ، هغه به راشي او زما د لوظ اعلان به وکړي.»

٢ خو کله چې هغه راشي، نو په هغه ورځ به څوک ژوندی پاتې شي؟ کله چې هغه راښکاره شي، نو څوک به وکولای شي چې د هغه په مخکې ودریږي؟ هغه به د ښه صابون په شان وي او د داسې اور په شان چې فلز پاکوي. ٣ هغه به د هغه زرګر په شان وي چې سپین زر صفا او پاکوي. د یو فلزکار په شان چې سره زر او سپین زر پاکوي، نو د څښتن استازی به لاویان صفا کړي، ترڅو هغوی څښتن ته مناسبې نذرانې راوړي. ٤ بیا چې کله د یهودا او اورشلیم خلک د پخوا زمانې په شان څښتن ته کومې نذرانې راوړي، په هغو باندې به هغه خوشحاله شي.

٥ مطلق قادر څښتن وایي: «زه به د قضاوت کولو دپاره ستاسو په منځ کې راښکاره شم او د جادوګرانو، زناکارانو، د هغو خلکو چې په دروغو شاهدي وایي، د هغو خلکو چې د مزدورانو په اجورې ورکولو کې ټګي کوي، څوک چې په کونډو، یتیمانو او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په پردیو خلکو باندې چې ستاسو په منځ کې دي، ظلم کوي او د هغو خلکو په ضد چې زما څخه وېره نه کوي، شاهدي ورکوم.

## د خدای سره ټګي کول

٦ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «زه څښتن يم او زه نه بدلېږم. نو په دې سبب تاسو ای د یعقوب اولادې، تراوسه پورې له منځه نه یئ تللي. ٧ تاسو د خپلو نیکونو په شان زما د قوانینو نه سرغړونه کړې ده او په هغو باندې مو عمل نه دی کړی. اوس بېرته ما ته راوګرځئ، نو زه به تاسو ته دروګرځم. که څه هم تاسو پوهېږئ، خو بیاهم پوښتنه کوئ: ‹مونږ څه وکړو چې بېرته تا ته دروګرځو؟› ٨ زه ستاسو نه پوښتنه کوم: ‹ایا دا ښه کار دی چې څوک د خدای سره ټګي وکړي؟› بې له شکه نه، خو بیاهم تاسو زما سره ټګي کوئ. تاسو پوښتنه کوئ: ‹څنګه؟› د عشر او نذرانو په موضوع کې. ٩ په تاسو ټولو باندې دې لعنت وي، ځکه چې ټول قوم زما سره ټګي کوي. ١٠ تاسو د خدای د کور خزانې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پوره عشر راوړئ، ترڅو هلته پرېمانه خواړه وي. په دې ډول ما وازمايئ، نو تاسو به ووينئ چې زه به د اسمان کړکۍګانې خلاصې کړم او په تاسو باندې به هر ډول پرېمانه ښه شيان راواوروم. ۱۱ زه به پرېنږدم چې ملخان ستاسو فصلونه له منځه يوسي او ستاسو تاکونه به بې حاصله نه وي. ۱۲ بيا به د نړۍ ټول قومونه تاسو نېکمرغه بولي، ځکه چې ستاسو وطن به د اوسېدلو دپاره يو ښه ځای وي.» مطلق قادر څښتن داسې وايي.

۱۳ څښتن وايي: «تاسو زما په هکله بدې خبرې کړې دي. خو تاسو پوښتنه کوئ: ‹ستا په خلاف مونږ څه ويلي دي؟› ۱۴ تاسو ويلي دي: ‹د خدای خدمت کول کومه ګټه نه لري. هغه ته په خدمت کولو سره مونږ څه ګټه وکړه يا مونږ چې کوم کارونه کړي دي مطلق قادر څښتن ته د هغو په هکله د پښېمانۍ ښودل څه ګټه لري؟ ۱۵ ګورئ چې مغروره خلک څومره نېکمرغه دي. بدعمله خلک نه يوازې دا چې بختور دي، بلکې هغوی په خپلو بدو کارونو سره د خدای صبر ازمايي او په دې باندې خپل ځانونه د سزا نه خلاصوي.›»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# خدای ته د وفادارانو د خاطراتو کتاب

۱۶ نو کوم خلک چې د خښتن نه وېرېدل، د یو بل سره
خبرې وکړې او خښتن ورته غوږ نیولی ؤ او هغوی چې څه وویل
هغه یې واورېدل. نو د خښتن په حضور کې د خاطراتو په کتاب
کې د هغو خلکو نومونه ولیکل شول چې د خښتن څخه وېرېدل
او د هغه د نوم درناوی یې کاوه. ۱۷ مطلق قادر خښتن وایي:
«هغوی به زما قوم وي او په هغه ورځ چې زه به دا کار وکړم،
هغوی به زما ځانګړې ملکیت وي. زه به په هغوی باندې داسې
رحم کوم لکه څنګه چې یو پلار په خپل منونکي زوی باندې
رحم کوي. ۱۸ نو زما قوم به یوځل بیا د نېکانو او بدکارانو ترمنځ
او د هغه سړي ترمنځ چې زما خدمت کوي او کوم چې زما
خدمت نه کوي، فرق ووینې.»

# د خښتن ورځ رارسېدونکې ده


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱ مطلق قادر څښتن وايي: «ګورئ، هغه ورځ به لکه د تنور د اور په شان زر راشي چې ټول مغروره او بدکاره خلک به لکه د بوسو په شان وسوځي. په هغه ورځ به هغوی داسې وسوځي چې د هغوی ريښې او څانګې به پاتې نه شي. ۲ خو تاسو چې زما څخه وېره کوئ، نو زما عدالت به په تاسو باندې لکه د لمر په شان ځلېږي او د لمر د وړانګو په شان به شفا درته راولي. تاسو به داسې ازاد او خوشحاله شئ لکه خوسيان چې د غوجل نه په ټوپونو وځي. ۳ په هغه ورځ چې زه به دا کار وکړم، نو تاسو به په بدکاره خلکو باندې بريالي شئ او هغوی به لکه د ايرو په شان ستاسو د پښو لاندې شي.

۴ ما چې د موسی شريعت او کوم قوانين او حکمونه د سينا په غره کې د خپل خدمتګار موسی په وسيله د اسراييلو ټولو خلکو ته ورکړي وو چې پيروي ورڅخه وکړي، هغه ياد ساتئ.

۵ ګورئ، د څښتن د هغې لويې او هيبتناکې ورځې د رارسېدلو نه مخکې به زه تاسو ته الياس پيغمبر درولېږم. ۶ هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د پلرونو زړونه خپلو اولادونو ته راوګرځوي او د اولادونو
زړونه به خپلو پلرونو ته راوګرځوي. که نه، نو زه به راشم او
ستاسو وطن به په پوره توګه وران کړم.»

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳